مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

مصطفی پسرلی ۲۰۱۹/۰۷/۲۲

# غـزل

دلته جګړې دي د جرګو خبرې نه کوي څوک
خلک مړه کیږي د ژوندو خبرې نه کوي څوک

شمعه بلیږي خو رڼا زما نصیب کې نه شوه
په دې تورتم کې د تیارو خبرې نه کوي څوک

صبر لرمه خو د صبر کاسه ماته شوله
دلته د جنګ د بندېدو خبرې نه کوي څوک

چې د وطن سره جفا کوي بې ننګه وي ادا
بې ننګه سر ته د پښتو خبرې نه کوي څوک

په پسرلي کې یې خزان خوښ دی پوهیږي کنه
شو لیونی د لیونو خبرې نه کوي څوک

مصطفی پسرلی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ